د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۳۱٦**(از ۹ الی ۱٦ سنبله ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و مراجع پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

آنچه در این شماره می‌خوانید:

## ټرمپ ولې سولې خبرې لغوې کړې؟ او په اړه يې غبرگونونه څه دي

مقدمه ..................................................................................1
په دوحه کې د افغان سولې پړاوونو ته ځغلنده کتنه..................................................2
ټرمپ ولې له طالبانو سره خبرې لغوې کړې..........................................................3
د خبرو د لغوه کېدو پر وړاندې غبرگونه...............................................................4
د خبرو په لغوه کېدو سره به جگړه زور واخلي؟.......................................................5
پایله ......................................................................................6

## بی سوادی مشکل دیرینۀ مردم افغانستان

مقدمه.....................................................................................6
سواد آموزی، ضرورت جامعه انسانی......................................................................7
رنج بی سوادی و تناقض در ارقام دولتی...................................................................8
پیشنهادات.................................................................................9

## ټرمپ ولې سولې خبرې لغوې کړې؟ او په اړه یې غبرګونونه څه دي



### مقدمه

په داسې حال کې چې طالب پلاوي له امریکایانو سره تقریباً یو کال مخامخ خبرو چې په ۹ پړاونو کې تر سره شوې، دواړو لوریو د ښه پرمختګ او وروستي توافق څخه خبره کوله.

ښاغلي ټرمپ د شنبې په مازدیګر (سپټمبر اوومه) په څینو پرله پسې ټوېټونو کې وېلي په پام کې ده، چې سپټمبر په اتمه په کمپ ډېوېډ کې له طالب مشرانو او جمهو رئیس محمد اشرف غني سره وګوري خو په سبا یې په ناڅاپي ډول سره په کمپ ډېوېډ کې د طالب مشرانو او افغان ولسمشر سره لیدنه لغوه کړه، د دې لیدنې د لغوه کولو سربېره د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو درولو امر یې هم وکړ؛ ځکه چې دې ډلې په کابل کې د هغه برید مسؤولیت منلی چې د یوه امریکایي سرتېري په ګډون یې ۱۲ کسان ووژل. آیا رېښتیا لامل یې د کابل وروستی خونړئ چاودنې وې، او که بل څه؟ د خبرو په لغوه کېدو سره غبرګونونه څه ؤو، ټرمپ ولې خبرې لغوې کړې آیا د خبرو بندېدل به جګړه ګرمه کړي او څه کول پکار دي په دې تحلیل کې پرې شننه شوې.

### په دوحه کې د افغان سولې پړاوونو ته ځغلنده کتنه

په دوحه کې د افغان طالبانو او امریکایي لوري ترمنځ تقریباً نهه پړاوه خبرې اترې ترسره شوې، او د دې خبرو اترو په ترڅ کې په دوحه کې د افغان مشرانو او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو کولو زمینه هم برابره شوه، چې افغان لوریو د ستونزو پر شریکولو او پر ګډه یې د حل لارو په لټولو سره مخامخ وغږېدل. په وروستي نهم پړاو کې طالب مشرانو او د امریکا له لوري زلمي خلیلزاد د سولې هوکړې د وروستی کېدو په اړه د پام وړ پرمختګ

په اړه څرګندونې ترسره کړې. د افغان سولې مسوده لومړی په پښتو او بیا دري او انګریزي ژبو ته وژباړل شوه. او دواړو لوریو ویل چې ټیمونه یې د هوکړې په تخنیکي برخه کار کوي او د سولې هوکړې نور کارونه پای ته رسېدلي. آن ترديې چې د هوکړه‌لیک د لاسلیک کېدو پر وخت د ضمانت کوونکو هېوادونو نومونه هم یو څه رسنیز شول، او په ټوله کې د سولې نهم پړاو په دوحه کې د دواړو لوریو ترمنځ د یو کامیاب او بریالي پړاو په حیث راڅرګند شو.

## ټرمپ ولې له طالبانو سره خبرې لغوې کړې

سخته برېښي، چې د ټرمپ د وروستیو ټویټونو تر شا هغه ریښتینې عوامل په نښه کړو، چې له کبله یې ده له افغان طالبانو سره د سولې خبرې اترې وځنډولې. خو بیا هم په دې تړاو یو شمېر عوامل شته دي، چې هم هیله بښونکي دي او هم هیله رژوونکي دي .

**لومړی؛** د خبرو اترو له تمولو او ځنډولو څخه د سولې په خبرو اترو کې د فشار د آلې په توګه ګټه اخیستل. د ټرمپ له دې وړاندې هم له شمالي کوریا سره د خبرو اترو پرمهال دغه تاکتیک غوره کړی ؤو.

**دویم؛** په امریکا کې د اوسني ترون پر ماهیت د زیاتېدونکو نیوکو څخه ځان خلاصون. په امریکا کې له وروستیو څو اوونیو راهیسې له افغان طالبانو سره د سولې پر تړون ډېرې نیوکې کېږي په دې آخرو کې ګانګرس زلمي خلیل زاد ته دریېم ځل لیک واستوه او له ده نه یې د طالبانو سره د خبرو وضاحت وغوښت که چېرې وضاحت ورنکړل شو نو دوی به بدیل لاره غوره کړي همدارنګه په افغانستان کې د امریکایي سفیر لیک چې هغه غوښتنه کړې وه چې د امریکایانو وتل باید د سولې له راتګه وروسته وي، نه د سولې له راتګه مخکې. په ټوله کې د ټرمپ سره د سي ای اې، دفاع وزارت، ګانګرس او ملي امنیت سلاکار جان‌بولټن چې ډېر ګمان کیږي په همدې موضوع پخاطر ټرمپ له ده غوښتنه وکړه چې استعفاه وکړي او له دندې ګوښه کړی شو هغه مسایل دي چې امکان لري په دې خاطر ټرمپ له طالبانوس ره خبرې لغوې کړې وي.

**درېیم؛** دا هم له امکانه لیرې نده چې ټرمپ خپل موقف یوځل بیا بدل او د سولې د مذاکراتو ځنډیدلی بهیر بیا پیل او عاجلې یې پایلې هم اعلان شي.

**څلورم احتمال؛** داسې انګېرل کیږي چې طالبانو نه غوښتل چې توافق نه مخکې له ټرمپ سره وګوري او غوښتنه یې دا وه چې له توافق وروسته کېدای شي په دریېم ځای کې له ټرمپ سره وګوري.

**پنځم احتمال؛** د توافق د ځای او وخت په اړه د دواړو لوریو مخالفت هم امکان لري چې د خبرو د لغوه کېدو سبب شوی وي.

## د خبرو د لغوه کېدو پر وړاندې غبرگونه

**طالبان:** طالبانو له امریکایانو سره د سولې د خبرو لغوه کېدو ته په خپل لومړي غبرگون کې ویلي، د ولسمشر ډونلډ ټرمپ دې پرېکړې تر ټولو لوی تاوان به پخپله امریکا ته رسېږي. دوی تر پرونه له امریکایانو سره خبرې کولې او دا خبرې په یوه ښه فضا کې روانې وې. اعلامیه کې راغلي، د ولسمشر ټرمپ له دې اعلانه ښکاره شوه چې امریکایان پر جنگ باور لري، خو بله خوا طالبان خپلو خبرو ته ژمن دي. په اعلامیه کې راغلي چې د طالبانو جهاد به دوام لري او د امریکایانو د سر او مال تاوان به نور هم زیات شي. طالبان وایي دوی پر خپل دریځ باور لري او پوهېږي چې امریکایان به هم بېرته همدې دریځ، یعنې د سولې خبرو ته راځي.د طالبانو اعلامیه کې ویل شوي دي چې زلمي خلیلزاد په اگست میاشت کې د دوی مشرانو ته واشنگټن ته د سفر بلنه ورکړې وه، خو دوی له امریکایانو سره د خپلمنځي هوکړې تر لاسلیکه دا سفر ځنډولی ؤو.

**افغان حکومت:** بله خوا افغان حکومت په خپره کړې اعلامیه کې زیاته کړې: په هېواد کې د سولې په روان بهیر کې د طالبانو روانه جگړه یو لوی خنډ گڼي، چې واقعي سوله ته د رسېدو لپاره باید طالبان جگړه ودروي، اوربند وکړي او له افغان دولت سره مخامخ خبرې وکړي. افغانان او افغان دولت د 'تلپاتې او باعزته' سولې غوښتونکي او د سولې هلو ځلو ته ژمن دي. د ارگ په خبرپاڼه کې له امریکايي چارواکو او نورو متحدینو غوښتل شوي چې د "تلپاتې او باعزته" سولې په راوستلو کې په گډه کار وکړي. همدارنگه په اعلامیه کې راغلي چې حکومت د را روانې تلې میاشتې پر شپږمه د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په ترسره کېدو ټینگار کوي چې راتلونکې اداره هم په "بشپړ دقت او تدبیر د سولې روان بهیر مخ ته یوسي".

**امریکايي چارواکي:** د ټرمپ له دې اعلان وروسته چې دی به په کمپ ډېوېډ کې له طالب مشرانو سره وگوري په دې اړه یې د اکثرو امریکايي چارواکو غبرگون راپارولی ؤو چې ټرمپ د هغه چا سره گوري چې د سپټمبر د ۱۱ مې حملې په تر سره کولو کې یې همکاري کړې. همدارنگه ډېری امریکايي چارواکي له طالبانو سره د خبرو مخالف ؤو. چې د ټرمپ په دې کار سره د دوی داخلي مخالفتونه کم شوي دي.

همدارنگه د خبرو د لغوه کېدو په اړه د سیمې هېوادونو هم خپل غبرگون څرگند کړی دی د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې د افغانستان لانجه د جگړې له لارې نه شي حل کېدای. همدارنگه یې د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو بیا پیل غوښتنه کړې او ورته خوشبینې یې ښودلې. همدارنگه د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف هم په یوه ټویټ کې د افغان سولې د خبرو په درېدو سخته اندېښنه ښوولې ده. هغه افغانستان ته په اشاره ویلي: "مات شوي بهرنیان باید ووځي او ورور وژنه باید ودرېږي، په ځانگړې توگه هغه نوې وینه تویېدنه چې بهرنیان ترې گټه اخیستلی شي ".ښاغلي ظریف ویلي، ایران چمتو دی چې له افغان حکومت او نورو اړخونو او گاونډیو سره د تاوتریخوالي درولو لپاره کار وکړي.د یادولو وړ ده چېملگري ملتونو له دواړو لوریو (طالبانو او افغان حکومت) د مخامخ خبرو د پیل غوښتنه کړې او ټینگار یې کړی چې دواړه لوري باید خشونت کم کړي تر څو بین الافغاني خبرو ته زمینه برابره شي.

## د خبرو په لغوه کېدو سره به جګړه زور واخلي؟

په هر ځای کې چې د سولې خبرې یوې پایلې ته نېږدې کیږي د دواړو لوریو له‌خوا جګړه زیاتیږي تر څو د خبرو په مېز زیات امتیاز تر لاسه کړي، دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې نهم پړاو په پای او د ټرمپ له لوري د خبرو په لغوه کېدو سره طالبانو په شمال او لوېدیځ کې د دریو ولایتونو په مرکزونو بریدونه وکړل او په تېرو دوه ورځو کې یې دری ولسوالۍ په شمال کې سقوط کړې او په کابل کې یې مرګوني بریدونه تر سره کړل همدارنګه افغان او امریکایي ځواکونو په هوایي او ځمکنیو بریدونو چې د دوی په وینا په طالبانو یې تر سره کړې دي ډېری وژل شوي کسان په کې عام وګړي دي. همدارنګه حکومت هم په بدخشان ولایت کې د وردوج ولسوالي له ۴ کلونو وروسته له طالبانو ونیوله، ټرمپ هم په ټوېټ کې ولیکل، چې ګواکې طالبانو په تېرو څلورو ورځو کې دومره زیان لیدلی چې په تېرو لسو کلونو کې یې نه ؤ لیدلی، خو موږ ولیدل چې طالبانو په تېرو څو ورځو کې د هېواد په شمال کې دري ولسوالۍ ونیولې او جګړې په ټول هېواد کې زور اخستی. تېر ورځ امریکایي جنرال چې افغانستان ته راغلی نوموړي د یوه سوال په ځواب کې وویل چې د دوی برخه اخستل به په جګړ کې د جګړې له تېزوالي سره تړلي وي که چېرې جګړه زور اخلي نو دوی به د جګړې ډګر ته ورداننګي د ده د خبرو معلومیږي تر هغه وخته چې جګړه کې تعادل وي دوی به په جګړه کې برخه نه اخلي کله چې افغان حکومت د کمزورۍ طرف ته ځي دوی به په جګړه کې برخه اخلي. لیدل کیږي چې د امتیاز د تر لاسه کولو لپاره ټول دخیل لوري کوښښ کړي چې جګړه تېزه کړي تر څو زیات امتیاز په هره برخه کې تر لاسه کړي، او تاوان یې افغان مظلوم ولس ته رسیږي او ګټه یې هغه چاته رسیږي چې دا جګړه یې پیل کړې ده.

## پایله

افغان حکومت او طالبان باید دا ومني، چې سوله د یو څه ورکولو او یو څه منلو په معنی ده، او په هېواد کې د جګړې ختمولو او سولې راوستلو لپاره باید دواړه لوري د بین الافغاني خبرو اترو لپاره د زمینې په موخه جګړه کمه کړي، چې په پایله کې به مخامخ خبرو ته زمینه برابره شي. د دواړو لوریو په همغږۍ سره به د بهرنیو ځواکونو وتلو ته زمینه برابره شي، که چېرې دواړه لوري په دې سره جوړ نشي نو دا د بهرنیو ځواکونو د لا تم کېدو او مېشته کېدو په معنی ده، چې په دې برخه کې به بیا هم د قربانۍ ډېره بیه عام افغان ولس پرېکوي او په پایله کې د هېواد راتلونکی به د یو نامعلوم برخلیک سره مخ وي.

له دې ورخوا د افغان سولې په اړه سیمه ییز او نړیوال لوري هم باید په پام کې ونیول شي او هغوی د بین الافغاني خبرو وراخوا د امریکایي لوري سره د سولې په اړه د خبرو اترو له جریان څخه هم باید خبر کړل شي او هېڅ هېواد ته باید د سولې په اړه د شکونو ځای پرېنښودل شي ترڅو په راتلونکې کې د خپلو ګټو لپاره د ربنتونې سولې سبوتاژ کولو هڅه وکړي.

او په ټوله کې افغان مشران باید طالب لوری او افغان دولت دې ته اړ کړي ترڅو د یو بل پر وړاندې د سختو او منفي څرګندونو څخه لاس واخلي، او پر ګډه هر اړخیزې سولې راوستلو ته کار ووایي، ترڅو د افغان ولس ستره

هیله او ارمان چې په ټول هېواد کې د سولې راتلل دي پوره شي او د جګړې ډګر له هېواد څخه د تل لپاره ټول شي.

همدارنګه طالبانو په خپله اعلامیه د امریکایانو سره په خبرو ټینګار کړی نو امریکا باید د طالبانو سره د افغان کشالې د حل په موخه خبرې بیا پیل کړي تر څو په افغانستان کې تل پاتې سوله راشي چې دا د امریکا، د سیمې هېوادونو او په ټوله کې د ټولو په خیر ده.

## بی سوادی مشکل دیرینۀ مردم افغانستان




### مقدمه

هشتم سپتامبر که مصادف است به هفدهم ماه سنبله و روز جهانی سواد، از این روز در حالی در سراسر دنیا تجلیل می شود که افغانستان از سوی ادارۀ بررسی جمعیت جهان با داشتن ۳۸،۲ درصد نفوس با سواد یکی از سه کشوری خوانده شده است که بیشترین بی سوادان را در خود دارد. ضمن گفتگوی اختصاصی، مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی با مسؤولین از وزارت معارف و معینیت سواد آموزی دولت جمهوری اسلامی افغانستان دریافت نموده است، که ٦۰ درصد مردم این کشور که حدود ده میلیون تمام نفوس را در بر میگیرد بی سواد می باشند. همزمان با این داکتر سردار محمد رحیمی معین بخش سواد آموزی و سخنگوی وزارت معارف بیان میدارند که از میان ۹،۴ میلیون شاگرد در مکاتب افغانستان ۳،۷ درصد آن، از رفتن به مکتب دور مانده اند.

در حالیکه رقم بی سوادان در این کشور از چندین سال به این طرف همواره ده میلیون گزارش می شود. بانو نوریه نجرابی سخنگوی وزارت معارف کشور می گوید که تا سال ۲۰۳۰م ٦۰ درصد مردم افغانستان را با سواد خواهند ساخت. او همچنین می گوید که طبق معمول بیشترین بخش بودجۀ امسال دولت افغانستان که ۳۸ ملیارد افغانی می شود به این وزارت اختصاص داده شده است.

این که چرا کشور ما هنوز هم رقم بالای بی سوادی را در خود گنجانیده است؟ در این شمارۀ تحلیل به بحث گرفته شده است.

## سواد آموزی، ضرورت جامعه انسانی

سواد که به حیث اساسی ترین بخش حیاتی و ضرورت حتمی در جوامع انسانی شناخته می شود، آموختن سواد همواره مورد تاکید و تائید ادیان الهی و مذاهب فکری قرار گرفته است، طوریکه در دین مقدس اسلام نزول وحی به کلمهٔ (إقراء) یعنی بخوان به پیامبر اسلام صلوات الله علیه آغاز شده است که البته خواندن و نوشتن از شرط های اساسی سواد آموزی بوده است.

بی سوادی در جهان امروزی به حیث یک پدیدهٔ نامیمون، مورد تنفر ملت ها و دولت ها قرار گرفته و همه سعی دارند تا این ویروس مشکل آفرین را از جوامع برداشته آموزش سواد را به حیث ضرورت جدی جهت دفع دشواری ها و چالش های فاراه شان قرار بدهند، و بسیاری ها نیز در این عرصه موفق بوده اند که می شود به چندی از کشور های منطقه اشاره کرد؛ کشور چین با وجودیکه از لحاظ داشتن نفوس بزرگترین کشور است در حدود ۹٦،۴ درصد با سواد دارد، ترکیه نیز ۹٦ درصد نفوسش با سواد می باشند و ۸۵ درصد نفوس ایران را با سوادان تشکیل میدهد. اما اگر افغانستان با این کشور ها مقایسه شود ، دیده می شود که پروسهٔ سواد آموزی در این کشور حتی به مقایسهٔ کشور های همسایه بسیار عقب بوده است.

در واقع پایه گزار کورس سواد آموزی در افغانستان امان الله خان بوده است که برای اولین بار صنف های سواد آموزی را که در آن زمان به «اکابر» مشهور بودند مخصوص بزرگسالانی که به خواندن و نوشتن معرفت نداشتند تحت نظارت دولت در کابل به راه انداخته بود. همچنین در دوران ظاهر شاه فعالیت های سواد آموزی برای بزرگسالان به طور مناسب ادامه داشتند حتی که نظر به مؤثر بودن آن کشور ایران طی نامه ای خواستار تطبیق برنامه و کتاب های سواد آموزی افغانستان در آن کشور شده بود. اما بعد از ختم دورهٔ ظاهر شاه، هجوم قشون شوروی سابق به افغانستان، جنگ های داخلی و حکومت طالبان در این کشور نه تنها در بخش سواد آموزی پیشرفتی به وجود نه آمده، بلکه حرکت منفی نیز آغاز گردید.

پس از سقوط حکومت طالبان و کمک های جامعهٔ جهانی در عرصهٔ معارف و برنامه سواد آموزی خصوصا بعد از سال ۲۰۰۸ میلادی به این‌سو ادارهٔ اسکان بشری ملل متحد (یو ان هبیتات) و ادارهٔ علمی و فرهنگی سازمان ملل (یونسکو) نیز با نهادهای مختلف دولت افغانستان به خصوص وزارت معارف در راستای بلندبردن سطح سواد در این کشور همکاری داشته که مرحلهٔ اول برنامهٔ سوادآموزی در سال ۲۰۰۸ با کمک ۳۸ ملیون دالری کشور جاپان آغاز شد و تاهنوز با همکاری یونسکو، سازمان کی یر، یونسیف، صلیب سرخ و ده ها مؤسسه دیگر خارجی ادامه دارد، اما به علت فساد اداری، ضعف در مدیریت کاری، فقر اقتصادی، جنگ و ناامنی و مشکلات اجتماعی، افغانستان تا کنون نتوانسته سطح گراف بی سوادان را دراین کشور پائین بیاورد حتی که بعد از کشور های بورکینا فاسو و جمهوری آفریقای مرکزی بیشترین بی سوادان را دارد.

## رنج بی سوادی و تناقض در ارقام دولتی

طوریکه بی سوادی یک مشکل عمده و اساسی فراراه پیشرفت و آرامش مردم ما بوده همچنین نبود یک اداره منظم، با تفاهم و وحدت کاری کارمندان دولتی یکی از چالش های اساسی دولت بوده و مشکل آفرین فراراه

شبکه های اطلاعاتی درافغانستان قرار گرفته است. در گفتگوی اختصاصی که مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی برای تهیهٔ این گزارش با چند تن از مسؤولین وزارت محترم معارف انجام داده است، نشان میدهد که در ارائه ی ارقام از سوی مسؤلین در وزارت معارف تناقضات وجود دارد. طوریکه داکتر سردار محمد رحیمی معین بخش سواد آموزی وزارت معارف تعداد مراکز فعال سواد آموزی در سال جاری را ٦٠٠٠ مرکز گفته می افزاید که سالانه ٦٠ هزار تن این اداره فارغ دارد، اما نوریه نجرابی سخنگوی این وزارت تعداد مراکز فعال سواد آموزی را ۵۲۱۹ مرکز گزارش داده ۲۷۷۵ مرکز را مخصوص زن ها و ۲۴۴۴ مرکز دیگر را مخصوص مردان بیان نموده از فراغت حدود صد هزار تن به طور سالانه گزارش میدهد. از سوی دیگر معین بخش سواد آموزی بودجهٔ اختصاص داده شده به این معنیت را حدود دو فیصد از کل بودجهٔ وزارت معارف می گوید در حالیکه سخنگوی این وزارت بودجهٔ اختصاصی در عرصهٔ سواد آموزی را ۰،۵۵ درصد گزارش میدهد. طوریکه اداره ملی احصائیه مرکزی فعالیت های سواد آموزی در سال مالی۱۳۹۷هجری خورشیدی را این گونه گزارش داده است.

| شماره | شاخص | واحدمقیاس | مجموع |
|---|---|---|---|
| **۱** | **کورسهای سواد آموزی** | **باب** | **۱۱،۹۱۱** |
| ۲ | مردانه | باب | ۷،۸۷٦ |
| ۳ | زنانه | باب | ٤،۰۳٥ |
| **٤** | **شاگردان** | **شاگرد** | **۱۹۷،۰۳۲** |
| ٥ | ذکور | شاگرد | ۱۰٦،۳٤۰ |
| ٦ | اناث | شاگرد | ۹۰،٦۹۲ |
| **۷** | **فارغان** | **شاگرد** | **۲۱۹،۱۹۰** |
| ۸ | ذکور | شاگرد | ۸۷،۸۳۳ |
| ۹ | اناث | شاگرد | ۱۳۱،۳٥۷ |
| **۱۰** | **معلمان** | **معلم** | **٦،۰٤۳** |
| ۱۱ | ذکور | معلم | ۳،۹۱٦ |
| ۱۲ | اناث | معلم | ۲،۱۲۷ |
| **۱۳** | **سوپروایزران** | **سوپروایزر** | **۸۷۸** |
| ۱٤ | ذکور | سوپروایزر | ٦۰۸ |
| ۱٥ | اناث | سوپروایزر | ۲۷۰ |

منبع: اداره ملی احصائیه

البته این اولین مرتبه نیست که این ادارات گزارش های متناقض ارائه می کنند بلکه وزارت معارف در سال ۱۳۸۸ هجری خورشیدی از موجودیت ۱۱ ملیون تن بی سواد در افغانستان خبر داده گفته بود که تا سال ۱۳۹۹هجری خورشیدی بی سوادی در افغانستان را به پائین ترین حد می رساند. در حالیکه تا کنون تغییرات چشم گیری وجود نداشته است. همچنین در سال ۱۳۹۵ خورشیدی وزیر معارف کشور از ۱۵ هزار مرکز سواد آموزی در سراسر کشور که گویا حدود۵۰۰ هزار تن مشغول آموزش سواد اند خبر داده افزوده بود که به طور سالانه حدود ۳۰۰ الی ۳۵۰ هزار تن از این مراکز فارغ می شوند.

مسؤولین در وزارت معارف سال ۱۳۹۱ هجری تعداد افراد بی‌سواد در کشور را ۱۰ میلیون تن اعلام کرده بود. اما وزیر معارف در سال ۱۳۹۳ از باسواد شدن ۵ ملیون تن سخن گفت و افزود که اکنون ۷ ملیون بی‌سواد در کشور وجود دارد و همه‌ساله نیم ملیون تن از نعمت سواد بهره‌مند می‌شوند. نظر به این ارقام درسال جاری باید

حد اقل ۵ میلیون بی سواد میداشتیم اما دیده می شود که چنین نیست. هرگاه به ارقام ارائه شده از سوی ادارت مسوول در یک دهۀ اخیر نسبت به سواد آموزی توجه شود، دیده می شود که این ادارات در بی خبری نسبت به آمار های ارائه شده در این عرصه به سر می برند.

## پیشنهادات

از آنجاکه بی سوادی نخستین موانع در قبال توسعه فردی و اجتماعی و یکی از عوامل دشواری ها برای کشور های رو به توسعه و به خصوص یک معضله همیشگی فراراه مردم افغانستان قرار گرفته است موارد زیر را جهت پیشرفت واقعی در عرصه آموزش سواد حیاتی و کم ساختن میزان بی سوادی در کشور، پیشنهاد می کنیم:

- ✓ برای نجات از پدیدۀ شوم بی سوادی نیاز است یک کمپاین ملی توسط رسانه ها، ادارات دولتی، نهاد های مدنی، شرکت های خصوصی و سازمان های بین المللی، صورت بگیرد تا همه باهم علیه این پدیده پیکار نمایند.
- ✓ بهتر است برای برنامه های سواد آموزی عناصر مکانی، زمانی و تعداد محدد افراد حذف شود و افراد بی سواد به روش های خانه به خانه حتی فرد به فرد جذب مراکز گردیده آموزش داده شوند.
- ✓ برای معینیت سواد آموزی بودجۀ کافی در نظر گرفته شود تا مراکز بیشتر سواد آموزی را گشوده، شبکۀ کورس های سواد آموزی به خصوص در بخش زنان را توسعه دهد، در عین حال وزارت معارف باید بکوشد تا کیفیت این کورس ها را بالا ببرد.
- ✓ ضرورت است که دولت افغانستان برای موفقیت برنامه های سواد آموزی عوامل عدم حضور مردم در کورس های سواد آموزی را ریشه یابی نموده در جستجوی دفع موانع آن به مشکلات اقتصادی، نا امنی و از طریق اطلاع دهی به مشکلات اجتماعی مردم پایان دهد.
- ✓ و اخیراً این که مساجد و مدارس ما باید در محو بی سوادی و توسعۀ خواندگی و سواد در کشور، در کنار مراجع حکومتی فعال گردیده و این کار را به عنوان یک وجیبۀ دینی و عبادت اجتماعی به پیش ببرند، چرا که مردم ما؛ مسلمان و مربوط به امت «إقرأ» می باشد.

## ارتباط با ما:

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com
**ویب‌سایت:** www.csrs.com – www.csrs.af
**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - + 93 (0) 784089590

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.**